# لالـے

## د پښتو ژبي يو بلوچ سندرغاړے

بوريوال کاکړ

موسيقي چې ورته د روح خواړهٔ وئيل کېږي په خپل ځان کښې پر څو برخو وېشل شوې ده .د هرې ځانګې ئې خپل خوند او خپل ارزښت دے .د خوند تعلق په اورېدونکي پورې اړه لري چې هغه څهٔ ډول موسيقي خوښوي او اوري. خو د ارزښت تعلق بيا په دې خبره پورې تړلے دے چې د موسيقۍ هره ځانګه په خپل وخت او زمان کښې د هغه قام چې دا ورسره تړلې وي د ژوند ، دود او دستور او حالاتو عکاسي کوي .

د نړۍ د نورو قامونو او هېوادونو په شان زمونږ خپله بدبخته خاوره لويه پښتونخوا چې د ژوند د هرې ځانګې هر څهٔ ئې د تېرو شويو او روانو حالاتو له اغېزې په امان نهٔ دي پاتې شوي، موسيقي هم په نړۍ کښې خپل ځائے او ارزښت لري. هم دغه ډول بيا په وطن کښې دننه هره سيمه د خپلو ځانګړيو رسمونو سره سره خپله دوديزه موسيقي هم لري. دغه موسيقي او له موسيقۍ سره وئيل کېدونکې شاعري سل په سل کښې د اړوند سيمې د مېشتو خلقو د ژوند او ژواك تول اړخونه انځوروي .



بورے(لورالائي) چې د لويې پښتونخوا د درو نومياتو ناوو په شمېر کښې تر پېښور او کندهار وروسته راځي يوه داسې سيمه ده چې د خپل تاريخ او ځانګړيو رسمونو او ادب له کبله يو لوړ مقام لري .د ژوند د نورو برخو تر څنګ د موسيقۍ او له هغې سره وئيل کېدونکې شاعرۍ له امله بورے د ځان پېژندګلو په خپله کوي.

د بوري او شاوخوا سيمو لکه ژوب ، قلعه سېف الله، زيارت او پښين اولسي ادب چې په سل

کښې اتیا برخې پرکوم څۀ مشتمل دے هغې ته کاکړی غاړې وئیل کېږي. له هغه وروسته د امی یعنې اتڼ غاړې هم دلته ښځې زیات مینه وال او اوربېدونکي لري. د بوري د خلقو له ژوند او خوشحالیو سره مینه د امی یا اتڼ له دې لاندینی غاړې څخه څرګندېږي چې وائي!

اتڼ مې د بوري نجونه کوینه
پرملا کړې وړې سي

په بوري کښې چې چا سیمه ایزه موسیقي او د اولسي ادب دغه دوې مهمې برخې لکه کاکړی غاړې اود امی یا اتڼ غاړې ژوندی ساتلې دي هغه لالے نومېدو چې اوس ئې له مونږ څخه پر ښلتون پنځۀ کاله اوښتي دي. نوموړے په قام احمدزے دے چې پلار او نیکۀ ئې د بلوچستان ایالت د قلات له سیمې څخه د جنوبي پښتونخوا د تل د خاله بنهره نومي سیمې ته تللي وه د کومې سیمې د ښائست په حقله چې په کاکړی غاړه کښې داسې وئیل شوي دي!

ښائستې نجونه د پی دي
لیا د تل سپینې لونی دي

په تل کښې له یو څو کلونو تېرولو نه پس ئې د لونی د بنهر کلي ته کډه وړې وه. د پښتو ژبې دغه ستر خدمتګار د ۱۹۳۸م کال د فروری د میاشتې پر پنځلسمه نېټه د لونی په بنهر کلي کښې د پراتۀ ګوهري احمدزي په کور کښې د لومړي ځل دپاره دې نړۍ ته سترګې پرانستې. مور او پلار ورباندې د لالي نوم کېښود. د احمدزیو په حقله کۀ څۀ هم دا وئیل کېږي چې پښتانۀ دي خو بیا هم د دوي په کور کښې بلوڅي وئیل کېده.

د لالي هلکوانه د لوني د بنهر په کلي کښې تېرېږي او هلته دے په اووۀ کلنی کښې له خپل اکا لښکو چې د چغکې شوقي او غړونکے ؤ، د چغکې غړول زده کوي. دے به د پنځلسو کالو ؤ چې کورنی ئې بنهر ته هم د خدائے په امانې په معنې لاس وښوراوۀ او د بوري د وهاري په نامه نومیاتې کلي ته ئې خپله د غریبی کډه یوړه. دلته د لالي په ژوند کښې د وادۀ کولو په بڼه کښې یو لوئے بدلون راځي خو دے بیا هم له خپله شوقه لاس نۀ اخلي.

چې کله د وهاري ځوانان له دۀ سره اشنا کېږي او د دۀ د دغه فن نه خوند اخلي نو پلار ئې له وهاري څخه د برنیمې په نامه هغه کلي ته د تلو تکل کوي چېري چې لالے د شهرت د بام سر ته خيژي. برنیمے د هغۀ فن ته هغه زمینه برابروي چې د کلي له وړو څخه تر زړو پورې د ټولو تر څنګ د ټول بوري د خلقو پام ځان ته را اړوي. برنیمے د بوري ولسوالی هغه کلے دے چې نیمه پېړی پخوا په کښې د کمري امی په نامه هغه اتڼ موجود ؤ چې یو به ځوان چې د بوري کاکړان ورته پلستکے وائي او ورپسې به یوه پېغله چې ورته نجلی وئیل کېږي روان وو او امی یا اتڼ به ئې کاوۀ. دغه اتڼونه یا امی ګانې یوائې په برنیمې کښې نۀ وې بلکې ټول بورے په دې دود مشهوره ؤ. امی د بوري په خلقو کښې دومره محبوبیت لري چې خلق ورته هسې بانه غواړي. خو نن سبا پرې هغه د چا خبره د سپین پېري سایه شوې ده. خو یوه کاکړی غاړه ده چې!

خدائے غني دے داد به وکي
مونږ به هم له خیساره کښې

لالـې چـې پـه خپلـه هـم ځـوان ؤ او د چغکـې ترځنګ ئې له امۍ ګانو یا اتڼو سره هم ښه جوړه وه، هر وادهٔ ته چې د بوري خلق ورته ورا هم وائي تلو او هلته به ئې ځوانانو او پېغلو تـه چغکـه وهلـه. هغـوي چې د نـابودي لـه هر څهٔ بـه بې پـروا وو، د لالـي پـر چغکه اتڼ کاوهٔ. لالي به د دې ترځنګ چې د وادهٔ او د چـا د زوي د زوکـړې پـه خوشحالۍ کښـې چغکـه ووهي او د کلي او سیمې خلقو ته د یو ځائے کېدلو اتڼونو کولو او پام بدلولو زمینه برابره کړي شخصي مېلمستیاؤ ته هم تلو او هلتـه بـه ئې د ماسخوتن لـه ډوډۍ وروسته چغکه وهله .

دا محفـل بـه داسـې ؤ چې د مېلمنـو پـه کوټـه کښـې بـه د ښـې د کېښـودلو ځـائے نـه ؤ او ټـول بـه داسې په پټه خُلهٔ ورته ناست وو لکه پـه کوټـه کښـې چې لـه سره څوك وي نهٔ. لالي بـه د خلقو لـه خوا ور جوړې شوي کاکړۍ غاړې او د اتڼ غـاړې وئیلې او په خپله بـه ئې هـم د سیمې پر نومیـاتو خلقو غـاړې جوړولې او خلقو ته اورولې. دغه په هغه وخت کښې یو لوئے اعزاز ګڼل کېده. لالي چې بـه پر یـوه سړي غاړې جوړې کړې وې نو هغهٔ به په دې لوئي کوله او ځان به ئې ډېر خوښ ؤ.

لالـي چـې د بـوري ټولـو خلقـو پېژنـدهٔ پـه ټولـه سیمه کښـې ئې ډېر مینـه وال او احتـرام هـم درلـود. لکه څنګه چې به دهٔ د خلقو د سات تېرۍ دپاره خپلـه چغکه له ځان سره ګرځوله نو هم دغه رنګه هر چا پـه خپلـه خوشـحالۍ کښـې دهٔ تـه د مېلمسـتیا بلنـه ورکوله چې د بوري خلق ورته ست وائي.

د لالـي د چغکـې د خـوارهٔ او د خپـل وخـت بـې ساري محفل ته به هغه وخت لاره نوره هم هواره شوه چې بـه د بـوري خلقـو لانـدي حـلال کـړل. لانـدے د جنوبي پښـتونخوا خلق هغـو پسـونو تـه وائي چې د ژمي دپـاره ئې سـاتلي وي او زیـاتره ئې د دسمبر پـه میاشت کښې حلالوي. هغه وخت چې پسـونه ارزانـه وو نو خلقو به ډېر لاندي کول او بیا به ئې د ټول کلي له هره کوره څخه یو یو کس په هغه شپه مېلمـه کـاوهٔ چې کله به ئې لاندي حلال کړل. پـه دغـه شپـه بـه ئې لالے هم مېلمه ؤ او د لاندي له کټوۍ وروسته به ئې د هغه له چغکې خوند اخسته . لالي به د ځوانۍ غاړې کولې او د سیمې د هغو خلقو غاړې به ئې کولې چې په مړانه کښې به ئې نوم درلود. هغـه بـه د هغـو خلقـو غـاړې کولې چې پـه ځوانۍ کښې بـه ئې د دنیـا لـه فاني کوره کوچ کړے ؤ. بس هغه بـه ؤ، چغکـه بـه وه او محفل به تود ؤ. کله کله خو به په شنه یخ کښې د کلي پېغلې د هغې کوټې لـه ورهٔ سره نژدې پـه تیـارهٔ کښــې ناسـتې وې او د لالــي لــه چغکــې او پــر زړهٔ لګېدونکو کاکړۍ غاړو به ئې خوند اخستهٔ.

پخوا چې په بوري کښې د لوبو په برخه کښې تـر نـور هر څهٔ کومـه لوبـه ډېره کېـده هغې تـه بـه ئې ډاپـي وئیـل. ډاپـي بـه د دوو کلیـو تـر منـځ ویشـتل کېده. هغـه داسـې لوبـه وه چې پـه یـوه وړوکـي لانده خټین دېوال کښې به ئې د لسو روپیو نوټ چې هغـه وخت ئې ښېخي زیـات ارزښت درلـود، کېښـود او لـه قریب لس قدمه لرې ځائے څخه به ئې په یوه ښویه او تراشلې ډېره ویشتو چې ډاپے به ئې ورتـه وئیـل. لـه یوې خوا بـه د یوهٔ او لـه بلې خوا بـه د بـل کلي خلق ولاړ وو او یوهٔ کس به رامنډه کړه او لـه ټاکل شـوي ځائے څخه بـه ئې پـه ډاپي هغـه د نخښـې پـه حېث اېښودل شـوے د لسو روپیو نوټ ویشـتو چې کله به

ئې وويشت نو به ئې ځان وغورځوۀ او د کلي خلق به پرې راټول شو او شاباشے به ئې ورکاوۀ. د لالي کار په دغه لوبه کښې دغه ؤ چې دۀ به چغکه وهله تر څو د ډاپې ويشتونکے په جذبه او ولولې سره خپله لوبه تر سره کړي.

لالے چې بېخي غريب ؤ او هيڅ پوله پټے ئې نۀ درلود بس يواځې به ئې په دې گوزاره وه چې کله به ئې پر چا کومه غاړه ښه ولگېده نو به ئې لس روپۍ پرې وشيندلې. دۀ به خپله چغکه لږ سوه کړه او اعلان به ئې وکړ چې ''پلانے پر دغه غاړه لس کالداري '' او دغه ناره به ئې دوه درې ځله تکرار کړه. دا رنگه ځنې خلقو د ټولو ناستو کسانو پر سره روپۍ اچولې چې لالي به ئې ناره داسې کوله" پلانے د گرد گډي پر سر لس کالداري" په دې محفلونو کښې به هغه د چا خبره ځنې بولډاله کسان داسې هم وو چې د سيمې د نومياتو کسانو چې هغه به په دغه مجلس کښې نۀ وو ناست پر سر هم پېسې اچولې. دغه رنگه لالي د خپل ژوند اړتياوې پوره کولې او ورځې شپې به ئې سبا کولې.

لالي چې په خپل دربدره ژوند کښې ئې د ښونځي مخ نۀ ؤ ليدلے د داسې حافظې څښتن ؤ چې په زرگونو کاکړۍ او د اتڼ يا امۍ غاړې به ئې زباني په ياد وې. داستانونه به ئې وئيل او اولسي سندرې به ئې وئيلې. د ملنگ جان د لارې ملۀ د پښتو ژبې دې ستر خدمتگار په نالوستې ورځ داسې کاکړۍ غاړې جوړولې چې نبغ په نبغه به ئې له زړۀ سره خبرې کولې. هغه په پښتني دود او دستور تر دې حده پوهه ؤ چې چا ئې د بلوڅ په حبث د پېژندلو فکر هم نۀ شو کولے .د لالي کړۀ وړۀ ټول د بوري د يوۀ سنزرخېل کاکړ مړگي په رنگه وو. ښه کمره لونگۍ، د پلوانو لرونکے مفلر، لنډه سدرۍ او ښې کلکې کفې. هغه څۀ وو چې لالے به ئې تل ورابانے ښکاره کاوۀ.

د ۲۰۰۳م کال د جنورۍ ۲٤مې نېټې ورځ د فاني ژوند د ژور سمندر هغه ځائے ؤ، چېرې چې د لالي د ژوند کشتۍ ډوبه شوه. هغه د تل دپاره له مونږ څخه جدا شو. چغکه،کاکړۍ غاړې او د بوري د سيمې د ماسخوتن محفلونه بې لالي شو او د لالي غږ د همېشه دپاره خاموشه شو.

"روح دې ښاد وي"

هغه وخت چې د ريکارډنگ يا ثبتولو اسانتياوې د نۀ برابرې وې نو بيا به هم د هغه وخت د تر ټولو ښو سوني ټېپونو چې يوه پيته به ئې رغوله په واسطه ډېرو خلقو د لالي محفلونه ثبتول. دا د هغه وخت له شتۀ اسانتياوو څخه يوه د پام وړگټه اخستنه وه. د هغو له خوا ثبت شوې پيتې له نېکه مرغه تر مونږه رارسېدلې دي. په دې کار کښې چې چا تر ټولو ډېر زيار ايستلے دے، هغه سړے د لالي له ملگرو څخه ؤ چې عبدالرحيم وردگ نومېدۀ او د بوري ښار د ژوب پر سړك ئې د پيتو دوکان ؤ. هغه دوکان لاتر اوسه هم شته خو دۀ ورسره د تل دپاره خدائے په اماني کړې ده او په ابدي خوب اودۀ دے. مرحوم عبدالرحيم وردگ د لالي په درځنونو پيتې ثبت کړې او د پښتو کلاسيکي او په خاصه توگه د سيمه ايزې

موسیقۍ مینه والو ته ئې پرېښې دي. دا هم باید ووایم چې له نېکه مرغه د هغو پېتو لویه برخه دا وخت هم زمونږ په لاس کښې ده.

زما په نظر د دې لوئې ملي او کلتوري شتمنۍ خوندي کول اوس په مونږ پورې اړه لري ځکه چې مونږ په داسې وخت کښې ژوند کوو چې لږ تر لږه دې ته لاس رسے لرو چې د لالي ټولې پېتې پر سي ډي او ډي وي ډي واړوو. دا به له یوې خوا د دې جوګه شي چې د نن په پر مختللي زمان کښې ئې هم خلق واوري او له بلې خوا به د دې کار ګټه دا وي چې زمونږ د ژبې د دې بې ریا خدمتګار زیار به له خاورو سره له ګډېدو نه بچ شي.